# په پښتنه خاوره د ترهه ګرۍ په جنګ کښې د "پښتون" مجلې کردار

## The Role of Pakhton Magazine in War against Terrorism

Naveed Jamal*

Dr Qadar wahid (samandar yousafzai)*

**Abstract:**

*"Pakhton" Magazine was started by Abdul Ghafar Khan (Bacha Khan) for the enlightenment of Pakhton (Pashton) living in Subcontinent in 1928. The Magazine played a significant role in the reformation and education of Pakhtons. But later on it was banned four times till independence, 1947. "Pakhton" Magazine really played its precious role in the Past. After a long time ago, in the leading hands of great poet Rahmat Shah Sail it was started publishing once again on January, 2006 from Bacha Khan Trust, Peshawar. These days Pakhtons are facing humorous challenging's. Among these challenges, terrorism is the most severe challenge to Pakhton's. This research paper is an attempt to analyze the role of the "Pakhton" Magazine in war against terrorism.*

په کال ۱۹۲۸ء کښې د "پښتون" په نوم د مجلې اجرا په خپل پس منظر کښې د تحریکِ ازادۍ او د انګرېز د غلامۍ د طوق نه د خلاصۍ بلها تراخه حقیقتونه لرې ـــ د 'پښتون' مجلې باني او دې اولنے مدیر عبدالغفار خان (باچا خان) د 'پښتون' رسالې د اغاز په حواله په خپل ژوند لیک کښې لیکي چې، زمونږ په دې صوبه (خیبر پښتونخوا) کښې یو اخبار او رساله هم نۀ وه ـــ ما اراده اوکړه چې د پښتنو دپاره د دوي په خپله ژبه کښې یو پښتو اخبار جاري کړم ـــ کوم چې په صحیح معنو کښې یو قومي اخبار وي او ددې قوم خپل ملکیت وي ـــ ددې مقصد په خاطر د ډېر جدوجهد نه پس زۀ په دې اراده کښې کامیاب شوم او په کال ۱۹۲۸ء کښې مې د "پښتون" په نوم رساله شروع کړه ـــ[1] د یادونې وړ ده چې د هغه وخت د فیرنګي حکومت نه ددې رسالې د اجرا دپاره اجازت هم باچا خان په خپل لاس اخستے ؤ ـــ ولې ددې د اغاز نه پوره لس کاله پس هم دغه فیرنګي حکومت په دې پابندي اولګوله ـــ د ۱۹۲۸ء نه واخله تر د ازادۍ یعنې ۱۹۴۷ء پورې په دې رسالې وخت په وخت څلور ځله پابندي لګولې شوې وه ـــ د پښتون رسالې په دغه وړومبي پړاؤ کښې باچا خان ددې چلونکے هم ؤ، ولې په ۱۹۳۰ء کښې د هغوي د ګرفتارۍ نه وروستو عبدالخالق خلیق ددې مدیر شو او تر یوې اوږدې مودې پورې ئې دغه رساله ډېره په ښه طریقه اوچلوله.

د ازادۍ نه وروستو 'پښتون' رساله په اوله ځل په کال ۱۹۸۹ء کښې یو ځل بیا پېل شوه - په دې حواله ډاکټر اشفاق احمد وطن یار لیکي

"یو ځل بیا "پښتون" دوه څلویښت کاله او دوه میاشتې پس د اکتوبر میاشتې په اوله نېټه په کال ۱۹۸۹ء کښې د خپلې خپروني پلوشې د پښتونخوا په فضا کښې په هر لورې خورې کړې-"[2]، "د ے ځل هم

---

* Lecturer, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.
* Lecturer, Department of Pashto & Oriental Languages, University of Malakand.

'پښتون' په اتمه ورځ به د خپل لوستونکو لاسونو ته رسیدو- مطلب دا چې 'پښتون' په دې دور کښې هم اووه ورځنۍ رساله وه-"[3]

د پاکستان جوړیدو نه پس په اوله وار په کال ۱۹۸۹ء کښې چې د اوږدې مودې نه پس 'پښتون' رساله یو واري بیا تابیا شوه نو دا واري مدیر اعلیٰ ئې د پښتو نومورے افسانه نګار مهدي شاه باچا ؤ ـــ د دې رسالې ددې پنځم دور او نوې ابتدا په حقله مهدي شاه مهدي لیکي چې، په کال ۱۹۴۷ء کښې چې په 'پښتون' مجله بندیز ولګیدو نو د باپا خان د ډیرو کوششونو باوجود، د هغه د وفات نه پس عبدالولي خان ته په جولائي میاشت، کال ۱۹۸۹ء کښې د 'پښتون' مجلې د اشاعت اجازت میلاؤ شو-[4]

"د بدقسمتۍ نه 'پښتون' په دې دور کښې د مالي بحران سره مخ شوه- چې اخر د 'پښتون' د چلونکو واکدارانو له خوا نه د 'پښتون' اشاعت بندولو فیصله د مالي تنګدستۍ په وجه په ډیره مجبورۍ سره اوکړې شوه ـــ او اخر 'پښتون' خپله اخري ګڼه په ۱۵ فرورۍ ۱۹۹۹ء خپل پښتون اولس ته د وړاندې کولو نه پس یو واري بیا د قام د سترګو نه ورک شو-"[5]

د اے این پي مشر اسفندیار ولي خان په کال ۲۰۰۶ء کښې د 'پښتون' مجلې اشاعت یو واري بیا شروع کړو چې لاتر اوسه جاري دے- دا ځل د دې رسالې ادارت رحمت شاه سائل ته حواله شو- د رحمت شاه سائل د "پښتون" مجلې د ادارت په حواله ډاکټر اشفاق احمد وطن یار لیکي:

"دا ځل د 'پښتون' اشاعت د پښتو ژبې ستر لیکوال، ادیب، انقلابي شاعر او د خدائي خدمتګار تحریک د سلسلې ستر مبارز محترم رحمت شاه سائل د ادارت لاندې شوروع شوے دے- او محترم رحمت شاه سائل صبب د چیف ایډیټر په حېث د 'پښتون' سر ځنه کوي-"[6]

رحمت شاه سائل د جنورۍ ۲۰۰۶ء نه تر جولائي ۲۰۱۷ء پورې د 'پښتون' مجلې د دیارلس نیم کالو پورې مدیر اعلیٰ پاتې شوے دے او د هغې نه وروستو د څه علتونو په وجه ئې د 'پښتون' مجلې د ادارت نور خدمات نۀ دې تر سره کړي- د دوې نه پس د میاشتنۍ 'پښتون' مجلې پنځم مدیر حیات روغانے په اګست ۲۰۱۷ء کښې وټاکلے شو- چې تر مارچ ۲۰۱۹ء پورې د مدیر اعلیٰ په حیث ئې کار اوکړو- د حیات روغاني نه پس ساجد ټکر د دې رسالې د مدیر اعلیٰ په حېث مقرر کړے شو- چې تر اوسه د "پښتون" د اشاعتونو دغه سلسله ئې دوام داره ساتلې ده-

دې مجلې په مذکوره ټولو دورونو کښې د پښتنو د لاړښودنې او پوهې د پاره خپل کوششونه په ډیره غوره طریقه ترسره کړي دي ـــ دغه رنګ چې کله په جدید دور کښې په پښتنه خاوره د ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ توده او ترخه هوا راوالوته او د پښتنو اکثریتي علاقې ترې متاثره شوې نو "پښتون" مجلې یو وار بیا په دغه ستغه سپوره دوره کښې هم خپله فریضه په ډیره موثره طریقه پوره کړې ده ـــ او د پښتون اولس ذهني، نظریاتي او شعوري روزنې او پالنې سره ئې په دغسې کړکیچنو حالاتو کښې د پښتون قام لاړښودنه هم کړې ده ـــ د ستر قامي شاعر رحمت شاه سائل په چیف ایډیټرۍ کښې د پښتون مجلې هره ګڼه د ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ په ضد خپله مبازه پېل کوي ـ که ددې مجلې ادارئې دي، که صحافتي کالمونه دي، که ادبي مضمونونه دي، که افسانې دي او که شاعري، دغه موضـوع پکښې ارو مرو شامل ده ـــ دلته فقط په ادبي لیکونو (شاعرۍ، افسانې، ادبي مضمونونو او ادبي رپورتاژونو) کښې دغه موضوع او مضمون ته زیر کېږو چې دغه ادبي لیکونه څومره او څنګه دا مهمه ستونزه پېش

کوي او په دغه کړکېچنو حالاتو کښې د خپل پښتون اولس تر کومه حده لارښودنه کوي۔
د ټولو نه اول چې ددې رسالې په شاعرۍ نظر اچوو نو په "پښتون" مجله کښې په دې موضوع باندې شاعري دومره ده چې که ترې ټول ټاله دغه شاعري راواخستې شي نو يو ضخيم کتاب ترې جوړېږي او که ورسره په يو يو نظم، قطع او غزل ئې تبصره او څېړنه اوشي نو پوره د سندي تحقيق پشپړه مقاله ترې سازېدلې شي۔
د نوي دور د پښتو شعري ادب د پاره د جنګ او امن موضوع د نائن ايليون د تاريخي واقعې نه پس خاص شوې ده ـــ د افغانستان لوټې ګټې او لوګي لوګي فضا او د پښتونخوا ، فاټا ، ان تر د سوات او ملاکنډ بارودي او ساړوبي ماحول دې موضوع له نوره هوا ورکړې ده ـــ ځکه خو چې مونږ ددې دورې شاعرې مطالعه کوؤ نو د چغو سورو، ژړا فرياد ، اسوېلو ، وينو او زخمونو تصويرونه او منظرونه پېش کوي ـــ دغه حال د دې رسالې د شاعرۍ هم دے ـــ د "پښتون" مجلې په اوله ګڼه کښې د ننګرهار د شاعر هجرت الله اختيار غزل د جنګ زده افغان وطن اجتماعي تصوير داسې پېش کوي: ـ

ژوندي ئې مړه دي هيڅ ژوندون ته تمنا نۀ لري
زما د کلي خلک نن لري سبا نۀ لري
په مونږ ئې ولې بد پېرزو شي زمونږ سپکه غواړي
زمونږه خولې خو خدايه! چاته هم بلا نۀ لري
پام چې د پلار د مينې نوم دلته په خواله وانخلې
په دې ورو کښې داسې ډېر دي چې دادا نۀ لري
نور ئې د ورځې که کوي دوي ئې د شپې هم کوي شي
زما اولس سړي لري خو رهنما نۀ لري
زما د قتل په وخت غوږ وم، وئيل وئې وژنه
دا هغه قوم دي چې وژل ئې هيڅ ګناه نۀ لري
چې خوله د بل وي، کار د بل وي او اختيار د بل وي
زما په فکر غلامي بله معنٰی نۀ لري[7]

د "پښتون" مجلې هم په دغه ګڼه کښې يو نظم د نامعلومه شاعر"دا مسکن زما د قام دے" د پښتون وطن د ويني ويني وجود نقشه پېش کوي۔ د مثال په توګه ترې دغه دوه بندونه اولولۍ چې: ـ

اوچې غني ډاګې، خونړۍ کندې کپرې
بې قابو وحشي رودونه، شاړ شبېر غرونه او لړې
دا مسکن زما د قام دے، چې تار تار ئې دي تبرې
درونډ دستار ئې کارې وارې، در درشل ئې دړې وړې

څو بلې زما د كور به، شي ويشتلې په بمونو
څو كوڅې زما د كلي به ډكېږي په لاشونو
وي تر كومې به دا لوبې، د ګولو او سنګينونو
څو به داسې خوېندې مياندې، راغورېږي په كتونو[8]

دغسې هم په دې ګڼه كښې د پردېس خان ناياب نظم "پښتونولي"، د حضرت زېبر زېبر سندره او د فضل ربي ارمان سكندري او د محمد اقبال اقبال غزلونه په خپله ادبي لمن كښې د ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ په ضد خيالونه او فكرونه لري۔

د پښتون مجلې د نوي دور په دويمه ګڼه كښې د ايس ايس روشان په فرضي نوم رحمت شاه سائل د يو نظم "د امن لوبه" چې د جرمني ادب نه ئې ژباړه كړې ده چاپ دے۔ددې نظم ليكوال پېټر شيټ دے۔دا نظم يو داسې سوال پېش كوي چې د نړۍ د ټولو قامونو نه ئې پرې د جواب غوښتنه كړې ده ــ سوال دا دې چې د جنګ جنګ لوبه خو هر چاله ورځي، دا د امن امن لوبه څنګه وي او څنګه كولې شي؟ ددغې سوال په جواب د ټولې نړۍ خاموشۍ دغه د جنګ جنګ لوبه دومره ګرمه كړه چې د پښتون وطن په هر ښار بازار، په هر كلي او كوڅه كښې ئې د وينو رودونه اوبهيول۔

په دې موضوع د "پښتون" مجلې په شاعرۍ كښې د ذكر وړ نظمونو كښې د ډاكټر اسحاق سباؤن "دا بې حسه پښتانۀ"، د پروين ملال نظم "كونډه"، د افراسياب خټک نظمونه "د كابل سپرلے" او "ميا راشد حسين شهيد"، د رحمت شاه سائل نظم "جنګ او امن"، د سليم وزير نظم "ازغنه كربښه"، د حكمت سروش نظم "اناركل"، د اجمل خټک نظمونه "د پښتنو د ننګ وخت" او "سپينه كونتره"، د خطاب الله خطاب نظم "سازش"، د سعدالله مېوند نظم "سپينه كونتره"، د محمد يوسف ساحل نظم "امن به كله راځي"، د حضرت زېبر زېبر نظم "د امن سندره"، د عمر مختار اپريدي نظم "د امن دعا"، د نورالامين يوسفزي نظمونه "د امن فرياد" او "جنګ پكار دے"، د نواز يوسفزي نظم "الميه"، د رحيم شاه شمال نظم "د امن سندره"، د انور زېب نظم "په خاطر د امن"، د خالد خان خالد نظم "د ماشومانو د سبق ارمان، د زرين پرېشان نظم "ځان مرګي بريدونه"، د دلاور خاموش نظم "خدايه د امن پرښتې راولې"، د بشير احمدزي نظم "د امن ترانه"، د امير رزاق امير نظم "د امن سندره"، د سيد محسن شاه نظم "ازار دے كه نظر دے"، د حاجي ګل سوفي نظم "د امن خوبى"، د شاعر امن پير ګوهر نظم "د ګل ماشومانو دپاره د امن يوه تاريخي لوبه"، د محمد سعيد عادل نظم "پېښور له نظر ماتوم"، د رحمت شاه سائل نظم "بشير احمد بلور"، د رڼا زرقا نظمونه "د امن زېرے" او "وطن"، د لائق زادي لائق نظم "وينې وينې پوهنتون"، د روحاب ملک نظم "رژېدلي ګلونه"، د محمد عيسىٰ غريب نظم "د اتم اګست د كوټې د شهيدانو په ياد كښې"، د نورالامين احساس نظم "جنګ ځپلې پېغله"، د شرىٰ حسين لائق نظم "د اے پي ايس د شهيد زوي روح ته" او داسې نور نظمونه شامل دي۔

د مثال په توګه د نور الامين يوسفزي دغه نظم "د امن فرياد" نه څو كرۍ اوګورئ چې: ـــ

اے د دنګو غرونو سربازانو
اے خانانو، اے نرانو باتورانو
په غېرت باندې مئينو افغانانو
د عزت او د حرمت دعوېدارانو
يوه لور مو زېږېدلې ده تمبو کښې
د خونکار باچا د جبر په کندو کښې
د بارودو په ډېرې ناسته ده ژاړي
د خپل نوم په روئې چې امن درنه غواړي[9]

د نورالامين يوسفزي بل نظم "جنګ پکار دے" هم ددې حالاتو نمائنده نظم دے۔ په دغه نظم کښې هغه مونږ ته د جنګ کولو داسې مشوره راکوي: ـ

جنګ پکار دے، جنګ پکار دے، جنګ پکار دے
جنګ پکار دے جهالت سره ملګرو
جنګ پکار دے شرشدت سره ملګرو
جنګ پکار دې د بد نيت سره ملګرو
جنګ پکار دے د وحشت سره ملګرو
جنګ پکار دے د غربت سره ملګرو
د وختونو د جرس دغه ناره ده
د حالاتو رانه دغه تقاضا ده[10]

دغه رنګ په "پښتون" مجله کښې د ظاهره خټک په مرسته د سوات د يوې ماشومې نظم چاپ دے چې د سوات د درد درد او پرهر پرهر حالاتو عکاسي کوي: ـ

اے د دنيا او اخرت مالکه
اے د لوئے شان او د عزت مالکه
دغه يو سوال په عاجزۍ کومه
زما د سوات په ښکلا اور ولګيد
د هر طرف نه په هر لور ولګېد
چا چې بل کړے مړ کولے نۀ شي
لاړې د علم خزانې ورانې شوې

د ماشومانو مدرسې ورانې شوې
هغې ګلونو څه ګناه کړې وه
د فضاګتې زنګوټې زنګ ونیوې
د شنهامونو لارې جنګ ونیوې
د سیند رنې اوبه سرچکي شولې
د مینګورې ښکلے ښار تباه شو
لوئے او وړوکے کاروبار تباه شو
خدایه ویرېږم چرته قحط رانۀ شي
ډېر پرده دارې خو سرتورې شولې
چې په خپل شته کور کښې بې کوره شولې
ویرې اخستې دي پناه لټوي
د توتکرکو اوازونه ورک شول
او د چنچڼو چغار چرته لاړو
تش په هوا کښې چورلکونه ګرځي
د ځنګل شنۀ په کښې تورچکي شوله[11]

دغسې د بونیر د سیمې د ځوان شاعر نواز یوسفزي نظم "المیه" هم د ملاکنډ ډویژن د بارودي فضا او ویرژنو حالاتو ترجماني کوي۔ـه

دا حادثه دا المیه څه عجیبه غوندې ده
یا ددې زمکې خدائې څه عجیبه غوندې ده
د چا په خیال او تصور کښې هم راغلي نۀ وو
په ویښه څه چې چا په خوب کښې هم لیدلي نۀ وو
چې د دوزخ نه به جنت ته دروازه راوځي
د هر نختر نه د چنار نه به لمبه راوځي
خو داسې وشو، داسې کېږي خلکو ما ولیدل
یواځې ما څه چې څلور کنجه دنیا ولیدل
اوس سرۀ اورونه د جنت په شنو باغونو ګرځي
د سرو اورونو شنه لوګي په اسمانونو ګرځي
خلق د خپل جنت د ښکلو باغیچو نه تخښتي
مارغان په غرونو باندې اوړي د لمبو نه تخښتي

د ماشومانو قلمونه، کتابونه سوځي
هم ئې سکولونه هم د لوبو يې تالونه سوځي
په سر درو کښې توکېدلي تول ګلونه سوځي
د جنتيانو د خوبونو تعبيرونه سوځي
په هر يو بڼ کښې د مارغانو اوازونه سوځي
په سندربوله ورشوګانو کښې سازونه سوځي
مونږ په جنت کښې د دوزخ لمبو وهلي خلک
لکه بازونه له شنو غرونو الوتلي خلک
نور هيڅ هم نۀ غواړو بس دغه يو ارمان لرو
يوه ارزو ده، يوه هيله په جهان لرو
زمونږ جنت کښې د اورونو سرچينه بنده کړئ
د جهنم نه راوتلي دروازه بنده کړئ[12]

د ډاکټر ظاهر شاه ظاهر نظم "زما جنت" هم د سوات او ملاکنډ د پښتنې خاورې لوټې ګټې ماحول او پرهر پرهر حالات تصوير کوي، لکه دغه بېلګه ئې اوګورئ چې: ـ

دلته د ژوند سازونه پاتې نۀ دي
دلته هغه خوندونه پاتې نۀ دي
زما د سوات سيمې ته راچې نۀ شې
نور د ښائست رازونه پاتې نۀ دي[13]

د نظمونو سره سره د پښتون مجلې په قطعاتو او غزلونو کښې هم دغه موضوع شتون لري. لکه د ډاکټر سمندر يوسفزي دغه غزل چې: ـ

مونږ بې اوزاره بې هنره رانيوي کونترې
ځکه د لاسو نه زمونږه الوتې کونترې
ستا د خيرن نيت په ښکالو پوهه شوي وګرځېدې
ګڼې زمونږ د بلې څوکې له راتلې کونترې
مونږه د امن د قيمت د زوره څه خبر وو
مونږ چې واړه وو مونږ به هر ځائے کښې ويشتې کونترې
په شش و پنج کښې يم ولاړ د جنګ او امن په بريد

چرته چې ووينم په وينو تکې سرې کونترې
دغه د بل کلي ښکاريان دي خو زمونږ د کلي
زمونږ په کلي کښې بلها کړلې دوې مرې کونترې
د خوده وتے ومه هسې تش کالبوت ولاړ وم
چې په نازونو شرنګولي پېکړې کونترې
نوم دې بدنام دےپه نړۍ کښې سمندره هسې
نور دې شر بدي شي بلها بلها ساتې کونترې[14]

د پښتون مجلې هم په دغه ګڼه کښې د حنيف قيس غزل هم د کتو دے چې: ؎

د شپې د زور د ماتېدو ملګري نۀ مومه
د سپين سبا د ترانو ملګري نۀ مومه
زۀ د تيارو نه د وتو لارې خو پېژنمه
خو د رڼا په لور د تلو ملګري نۀ مومه
بې د الوته نور زمونږ د بقا جنګ نۀ کېږي
خو زۀ د بره الوتو ملګري نۀ مومه
دا پردے جنګ راسره څوک د خپله کوره لر کړي
په پښتنو کښې پښتنو ملګري نۀ مومه
په سواته ستا په ښائستونو باندې اور بلېږي
ستا حفاظت له زۀ يو څو ملګري نۀ مومه
دا ماحول څه دے خو په مړو کښې ژوندون دے قيسه
زۀ د ژوندو ژوندو قيصو ملګري نۀ مومه[15]

د شاعرۍ سره سره د "پښتون" رسالې په بېلابېلو ګڼو د ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ په موضوع يو شمېر افسانې هم چاپ دي ـــ په دغه لړۍ کښې وړومبۍ افسانه د "شنې اوبه"[16] د سرليک لاندې چاپ ده چې محمد قاسم عارف ليکلې ده ـــ ددې افسانه نګار يوه بله افسانه "د شهيد قبر"[17] هم په دغه موضوع يوه نمائنده افسانه ده ـــ ددې سره سره د طاهر افريدي درې افسانې هم د ذکر وړ دي ـــ په دغو کښې وړومبۍ افسانه "چې د فن ګوتي قلم شي"[18] ، دويمه افسانه "زړونه په چاودو نۀ چوي"[19] او دريمه افسانه "هديره"[20] تر عنوان لاندې د پښتون په بېلابېلو ګڼو کښې چاپ دي ـــ په دې لړۍ کښې "دويم سړے"[21] يوه بله د پښتو طبع ذاد افسانه ده چې رحمت شاه سائل ليکلې ده او د "سحر ګل نادان" په فرضي نوم ئې چاپ کړې ده - دغه رنګ رحمت شاه سائل يوه بله افسانه "بندې دروازې"[22] هم ليکلې ده ـــ دا افسانه هم هغوي د "فرهاد روشن" په فرضي نوم چاپ کړې ده ـــ د سائل صيب په دغه دواړو افسانو د

ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ د دورې اثرات ښکاره ده ــ د پښتون رسالې په پاڼو کښې د ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ د اثر لاندې ليکلې شوې نورو افسانو کښې د ثناء ثاقبې افسانه "ډيورنډ"[23]، د سمسور بونيري "بدنصيبه"[24]، د پروين ملال افسانه "دوه لارې"[25]، د شبير ولي خان اورکزي افسانه "ډانچه"[26]، د سجاد ژوندون افسانه "د حشر ميدان"[27]، د فرحت عباس افسانه "ارمان"[28] هم د ذکر وړ دي۔

د پورته ذکر شوو افسانو نه علاوه څو ادبي مضمونونه هم داسې دي چې خاص په دغه موضوع يعني په پښتنه خاوره د ترهګرۍ او انتهاپسندۍ نه متاثره شوو لمبه لمبه حالاتو په حواله د ذکر وړ دي ـــ په دې کښې وړومبې مضمون د رحمت شاه سائل دے چې "د تخليق په وخت کښې اور او لمحې"[29] عنوان لرې ـ دويم مضمون ډاکټر راج ولي شاه خټک ليکلے دے چې "پښتونولۍ کښې د امن امکان او تصور"[30] عنوان لرې ــ دريم مضمون د ډاکټر خالق زيار دے چې "عصري تقاضې او د اکبر سيال شاعري"[31] تر عنوان لاندې ئې ليکلے دے۔

د ادبي ليکونو په لړ کښې د "پښتون" مجلې په بېلا بېلو ګڼو کښې دوه ادبي رپورتاژونه هم شامل دي چې د دوه امن مشاعرو رودادونه په خپله لمن کښې لرې ــ يو د هنګو ادبي ټولنې له خوا په هنګو کښې، د پښتو جديد او عصري نمائنده شاعر، رحمت شاه سائل په مشرۍ کښې، په جون ۲۰۰۶ء کښې، پښتو امن مشاعره[32] شوې وه ــ په دې ليک کښې ليکوال نعمت الله نعمت د هغې روداد وړاندې کړے دے۔ دويم ليک، "د پښتو ادبي ټولنې امارات درې دېرشمه کليزه"[33] دے ــ په ۵ دسمبر ۲۰۱۳ء کښې په دوبۍ کښې د اماراتو ادبي ټولنې درې ديرشمه کليزه د اماراتو د قومي ورځې سره نمانځل شوې وه۔ رحمت شاه سائل په دغه دستوره کښې کډون کړے ؤ چې يوه امن مشاعره پکښې هم شوې وه۔ رحمت شاه سائل د دوبۍ په خپلې دوره او په دغه دستوره رپورتاژ ليکلے او د پورته ذکر شوي سرليک لاندې ئې شائع کړے دے۔

د نتيجې په توګه په ډاډ زړۀ وئيلې شو چې د "پښتون" مجلې په بېلابېلو ګڼو کښې د ترهه ګرۍ او انتهاپسندۍ له وجې په پښتنه خاوره د راجوړو شوو کړکېچنو حالاتو زړۀ وره او موثره ترجماني شوې ده ــ دغه هر څه مونږ ته په شاعرۍ کښې هم په لاس راځي، افسانې پرې هم ليکلې شوې دي او د ادبي مضامينو سره سره په نورو اصنافو کښې هم په دغه موضوع طبع ازمائي شوې ده ــ په پښتنه خاوره په دغسې حالاتو کښې "پښتون" مجلې د خپل اولس د لارښودنې او ترجمانۍ فريضه ډېره په ښه طريقې سره ترسره کړې ده او د خپلې خوا ئې يو ځل بيا ډېر لوے او تاريخي کردار لوبولے دے۔

سفارشات:

مونږ د خپلې مطالعې په رڼا کښې لاندينې سفارشات پېش کول غواړو:

(۱) د خيبر پښتونخوا پوهنتونونو له د "پښتون" مجلې په دې تاريخي کردار، او ادبي خدمت د ايم فل او پي ايچ ډي د سطحې تحقيقي کار پکار دے۔

(۲) که د ترهه ګرۍ او انتها پسندۍ په موضوع ليکلې شوې شاعري د پښتون مجلې د پاڼو نه راغونډه کړې شي او کتابي صورت کښې خوندي شي نو دا به د پښتنې خاورې يو غوره او ريښتونے منظوم تاريخ شي۔

(۳) په دغه موضوع د پښتون مجلې په پاڼو کښې شاملې افسانې هم په کتابي صورت کښې چاپ کېدلے شي ــ چې دا به د پښتو افسانې په تاريخ کښې يو ډېر مهم کتاب وي۔

(۴) د جنګ په ضد د امن دپاره چې د "پښتون" مجلې په ادبي مضامينو او شاعرۍ کښې کوم حل لارې ښودلې شوې دي، خصوصاً د پښتونولۍ د عناصرو لکه جرګه مرکه او تيګه وغيره نو که نن هم په دغه تجويزونو او زرينو خيالونو عمل اوشي نو دا لويه مسئله حل لاره موندې شي۔

(۵) د "پښتون" مجلې په رنګ د پښتو نورو رسالو او ورځپاڼو هم په دې حقله يو اهم صحافتي او ادبي کردار لوبولے دے۔ پکار ده چې داسې تحقيقي زيارونه د نورو مجلو په حواله هم اوشي۔

## حوالې

---

[1] عبدالغفارخان، باچاخان: آپ بيتي خان عبالغفار خان، سيد محمد شاه پرنټرز، لاهور، ص، ۸۵

[2] اشفاق احمد وطن يار، ډاکټر، د پښتو ادب په ترقۍ کښې د 'پښتون' رسالې کردار، پي ايچ ډي مقاله، پښتو نړي واله مرکه، کوټه، ۲۰۱۶ء، ص۷۰

[3] هم دغه، ص، ۷۰

[4] مهدي شاه مهدي، اووه ورځنۍ 'پښتون' مجله، پيښور، ۱۹۸۹ء، ص، ۵

[5] اشفاق احمد وطن يار، ډاکټر، د پښتو ادب په ترقۍ کښې د 'پښتون' رسالې کردار، پي ايچ ډي مقاله، پښتو نړي واله مرکه، کوټه، ۲۰۱۶ء، ص، ۷۷

[6] هم دغه، ص، ۷۸

[7] اختيار، هجرت الله، غزل، مشموله، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، اول کال اوله ګڼه، جنوري ۲۰۰۶ء، مخ ۷

[8] دا مسکن زما د قام دے، ددې نظم ليکوال نامعلوم دے، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، اول کال اوله ګڼه، جنوري ۲۰۰۶ء، مخ ۷

[9] نورالامين يوسفزے، د امن فرياد (نظم)، مشموله مياشتنۍ پښتون مجله، باچاخان مرکز پېښور، څلورم کال اوومه ګڼه، جولائي ۲۰۰۹ء، مخ۷۰

[10] نورالامين يوسفزے، جنګ پکار دے (نظم)، مشموله، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، څلورم کال نهمه ګڼه، ستمبر ۲۰۰۹ء، مخ ۷۱

[11] د سوات د يوې ماشومې شاعرې نظم چې د شاعرې نوم او عنوان نۀ لري، مشموله، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، څلورم کال نهمه ګڼه، ستمبر ۲۰۰۹ء، مخ ۷۱

[12] نواز يوسفزے، الميه (نظم)، مشموله مياشتنۍ پښتون مجله، باچاخان مرکز پېښور، څلورم کال اوومه ګڼه، جولائي ۲۰۰۹ء، مخ۷۰

[13] ظاهر، ظاهر شاه، ډآکټر، زما جنت (نظم)، مشموله مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دريم کال دويمه ګڼه، فروري ۲۰۰۸ء، مخ ۷۰

[14] سمندر يوسفزے، غزل، مشموله، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، څلورم کال اوومه ګڼه، جولائي ۲۰۰۹ء، مخ۷۰

[15] حنيف قېس، غزل، مشموله، مياشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، څلورم کال اوومه ګڼه، جولائي ۲۰۰۹ء، مخ۷۰

[16] عارف، محمد قاسم، شنې اوبه (افسانه)، مشموله "مياشتنۍ پښتون مجله، اول کال اوله دويمه ګڼه، باچاخان مرکز پېښور، فروري ۲۰۰۶ء، مخونه: ۶۲، ۶۱

[17] عارف، محمد قاسم، د شهيد قبر(افسانه)، مشموله مياشتنۍ پښتون مجله، اول کال يوولسمه ګڼه، باچا خان مرکز پېښور، نومبر، ۲۰۰۶ء، مخونه: ۳۴، ۳۵

[18] طاهر افریدے، چې د فن ګوتې قلم شي (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دویم کال دریمه ګڼه، مارچ ۲۰۰۷ء، مخونه: ۶۸-۷۱

[19] طاهر افریدے، زړونه په چادو نۀ څوي (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دریم کال، اوومه ګڼه، جولائي ۲۰۰۷ء، مخونه: ۲۴-۲۸

[20] طاهر افریدے، هدیره (افسانه)، مشموله، میاشتنۍ پښتون مجله، باچاخان مرکز پېښور، شپږم کال، یوکم پنځوسمه ګڼه، نومبر ۲۰۱۱ء، مخونه: ۶۶، ۶۹

[21] نادان، سحرګل، دویم سرے (افسانه)، مشموله، میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دریم کال، لسمه ګڼه، اکتوبر ۲۰۰۷ء، مخونه: ۶۴-۶۷

[22] فریاد روشن، بندې دروازې (افسانه)، مشموله، میاشتنۍ پښتون، باچا خان مرکز پېښور، یوولسم کال، یو سل شپږمه ګڼه، اګست ۲۰۱۶ء، مخونه: ۵۸-۶۳

[23] ثنا سافي، ډیورنډ (افسانه)، مشموله، میاشتنۍ پښتون مجله، باچاخان مرکز پېښور، شپږم کال شپږ خلوېښتمه ګڼه، اګست ۲۰۱۱ء، مخونه: ۶۹،۶۸

[24] سمسور بونېرے، بدنصیبه (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، اتم کال، پنځه شپېتمه ګڼه، مارچ ۲۰۱۳ء، مخ: ۶۰

[25] پروین ملال، دوه لارې (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، یوولسم کال، یو سل څلورمه او پنځمه ګڼه، جولائي ۲۰۱۶ء، مکونه: ۶۷-۶۹

[26] خان اورکزے، شېر ولي، ډانچه (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دولسم کال، یو سل شلمه ګڼه، اکتوبر ۲۰۱۷ء، مخونه: ۶۳، ۶۴

[27] سجاد ژوندون، د حشر مېدان (افسانه)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، دیارلسم کال، یو سل اتیشتمه ګڼه، اګست ۲۰۱۸ء، مخ: ۶۲

[28] فرحت عباس، ارمان (افسانه)، مشموله، میاشتنۍ پښتو مجله، باچا خان مرکز پېښور، دیارلسم کال، یو سل یو دېرشمه ګڼه، نومبر ۲۰۱۸ء، مخ: ۶۹

[29] سائل، رحمت شاه، د تخلیق په وخت کښې اور اور لمحې(مضمون)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، څلورم کال، پنځمه ګڼه، جون ۲۰۰۹ء، مخونه: ۴۴-۵۰

[30] خټک، راج ولي شاه، ډاکټر، پښتونولۍ کښې د امن امکان او تصور (مضمون)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، پنځم کال څلورمه ګڼه اپرېل ۲۰۱۰ء، مخونه: ۲۳-۲۸

[31] خالق زیار، ډاکټر، عصري تقاضې او د اکبر سیال شاعري (مضمون)، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، پنځم کال څلورمه ګڼه، اپرېل ۲۰۱۰ء، مخونه: ۵۴-۵۸

[32] نعمت، نعمت الله، د اتحاد ادبي ټولنې هنګو د سیوري لاندې د امن مشاعره، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، اول کال، لسمه ګڼه، اکتوبر ۲۰۰۶ء، مخونه: ۵۶-۵۷

[33] سائل، رحمت شاه، د پښتو ادبي ټولنې امارات درې دېرشمه کلیزه، مشموله میاشتنۍ پښتون مجله، باچا خان مرکز پېښور، نهم کال، اووه اویایمه ګڼه، جنوري ۲۰۱۴ء، مخونه: ۸۴-۸۸